# پښتو فولکلوریک ادب کې د لونګ او لونګین ارزښت

پوهنمل تاج محمد رحیمي

**Conclusion:**

Clove and a Bunch of Cloves is one of the essential and exciting ornaments. In almost all Pashtun girls are related to this. This clove made a special place in Pashto Oral Literature. Every genre of Oral Pashto Literature reminds us of this natural beauty of clove and a bunch of cloves. Clove shows it import ants when a girl makes and wears a bunch of cloves when she goes to the groom's house. As it has an essential place in all over the world. Some people use it as medicine and spice, but Pashtun girls use it as ornament and beauty. In some areas, when a girl gets merry, she should have to have two or three bunches of clove or should buy from the bazaar. AS in a poem, she says,'' O my lover brings me some cloves, it is the custom I made a bunch of cloves as an ornament". It means that in some places, cloves keep by people as a custom. The black color and pleasant aroma show its importance. When a Pashtun girl gets merry, she makes a bunch of cloves for an ornament called 'Lawangeen' and puts it in a handkerchief with her make up tools. To sum up, a clove and a Bunch of Cloves is the great ornament of Pashtun girls. Always Pashtun girls use clove in their oral literature. In a poem, she says, "O my beloved if you cannot find it near here then go far away and bring me the plant of clove."

**لنډیز:**

لونګ او لونګین د عام ولس د سینګار توکو او ګاڼو له ډلې څخه یو ډېر ارزښت ناک او په زړه پورې څیز دی.په ټولو پښتنو سیمو کې د پښتنو پېغلو او نجونو اړیکه په یو نه یو ډول له لونګ او لونګین سره تړلې ده.همدا لامل دی،چې په پښتو شفاهي ادب کې یې ځانله ځای پیدا کړی دی.د پښتو په نالیکلي یا ولسي ادب هر ژانر کې د لونګ او لونګین یادونه شوې.د لونګ ارزښت هغه وخت ډېر وي،چې نجونې ودېږي او د خپل خاوند کور ته د تللو څخه مخکې یې د لونګو څخه په زړه پورې لونګین جوړ او په سینه ټومبلی وي.که څه هم په نوره نړۍ کې هم لونګ د ارزښت وړ دي،ځینې یې د درملو لپاره،ځینې یې په عطرو کې او ځینې یې بیا د مخ د ښکلا او غذایي مسالو کې ورګډوي او ګټه ترې اخلي،خو پښتنې نجونې یې یوازې د سینګار او ښکلا تر حده کاروي.ځینو سیمو کې چې کله نجلۍ ودېږي،نو هرو مرو به له ځانه سره د لونګو دوه یا درې وړې کڅوړې وړي. یعنې په ځینو سیمو کې د لونګو ساتل او جوړول د یو دود په توګه کارول کېږي،د لونګ ارزښت د هغې له تور رنګ او خوږ بویې څخه ډېر ښه معلومېږي،پښتنې نجونې چې کله ودېږي مخکې له مخکې د خپل ځان لپاره د لونګو یو امیل چې لونګین ور ته ویل کېږي جوړوي او د خپلو سینګار توکو سره یې په یو دسمال کې ایږدي،څو ترې خراب نه شي،نو ویلی شو،چې لونګ او لونګین که څه هم په پښتو ټولنه کې د سینګار یو لوی ارزښته درلود چې همدا لونګ یې په بار بار په شفاهي ادب کې یاد کړي دي.لونګ او لونګین د پښتو شفاهي ادب په هر ژانر کې یاد شوی او پېغلې یې تل د تناره پر سر او د ګودر پر غاړه یادوي.

**سریزه:**

پښتو ژبه یوه بډایه او غني ولسي پانګه لري،چې د نړۍ نورې ژبې ورسره سیالي نه شي کولی،پوهان په دې اند دي،چې که یو خوا پښتو ولسي ادب غني دی،خو بلخوا د پېړیو په اوږدو کې یې ځینې برخې له منځه تللې دي،همدا ولسي ادب دی،چې د پښتنو ځینې ارزښتونه یې ساتلي دي،چې یو هم په دې ارزښتونو کې لونګ او لونګین دی.که تاسو د پښتو ولسي ادب خاصې او عامې سندرې ولټوی په هر ژانر کې به تاسو ته د لونګ د بوټي،لونګ او لونګین انځورونه مخ ته راشي.پښتو شفاهي ادب دومره غني او بډایه دی،چې د پښتنو پېغلو د ارمانونو هنداره ګرځېدلې ده.کومه خبره،چې پښتنه پېغله په خوله نشي راوړی،هغه خبره یې په لنډۍ،سروکي او یا نورو ولسي ژانرو کې بیان کړې ده.لکه په یوه لنډۍ کې وایي چې:

لاس به دې وتړم په زلفو

په لونګین به دې وهم چې مړ دې کړمه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته خبره که په ښکاره یوه پښتنه پېغله وکړي،نو په ټولنه کې به له سختو ناخوالو سره مخ شي،خو همدا ولسي ادب دی،چې دپېغلې د خولې خبره یې زغملې او په ټولنه یې منلې ده.د لونګو کارونه په مختلفو هېوادونو کې توپیر لري،ځینې یې د دواګانو لپاره،ځینې یې د مخ د کریمونو لپاره،ځینې یې د خوراکونو د خوند جوړولو لپاره،ځینې یې د عطرونو په جوړلو کې او ځینې یې د جنسي قوې د پیاوړي کولو لپاره د کارولو غوښتنه کوي،خو پښتنه ټولنه یې بیا په دې نورو خبرو پسې نه ګرځي او یوازې یې په دې پېژني،چې لونګ او لونګین د نجونو سینګار دی او کوښښ کوي،چې ښکلی او په زړه پورې لونګین،چې ډېر لړونه او ښکلی بوی ولري جوړ کړي.په دې څېړنه کې کوښښ شوی ،چې د پښتو هغه شفاهي ژانرونه،چې په هغې کې د لونګ او لونګین یادونه شوې راټول او وړاندې شي.د لونګ او لونګین ارزښت په ولسي ادب کې روښانه او په زړه پورې دی او بله دا،چې په دې څېړنه کې کوښښ شوی دی،چې لوستونکو ته د لونګ او لونګین ارزښت او ولسي ادبي ژانرونو کې یې د یادونې په اړه معلومات ورکړل شي.

**کاریدونکي ویې: لونګ،لونګین،د لونګ بوټی،جانان،بوی.**

**فولکلور:**

فولکلور،چې له انګلیسي ژبې څخه اخیستل شوې کلمه ده،په لغت کې فولک خلکو ته او لور د پوهې په معنی سره راغلې ده.د خلکو څخه مراد ولسي خلک دي.یا فولکلور د هغو ولسي خلکو پوهه ده،چې تر ډېره یې سواد نه وي. (۵ – ۱۵ )

دا،چې زمونږ موضوع په پښتو شفاهي یا فولکوریک ادب کې د لونګ او لونګین ارزښت دی،نو دلته په همدې تعریف بسنه کوو،ځکه چې د فولکلور بحث ډېر لوی دی.پښتو شفاهي ادبیات هغه ادبیات دي،چې سینه په سینه،خوله په خوله له یوه نسله بل نسل ته رارسیدلي دي،چې په دې شفاهي ادبیاتو کې لنډۍ،بګټۍ،غاړې،بړاکي،سروکي،چاربیتې،کسرونه،مقام او نور ډېر اړخونه په خپله غېږ کې رانغاړي،خو دلته په ځینو برخو،چې د لونګ او لونګین یادونه شوې ده په دې موضوع کې خاص هماغه برخې تر بحث لاندې نیول شوي دي او هغه نثري برخې یې زمونږ د بحث موضوع نه ده.

**لونګ:**

لونګ هغه دانه ده،چې تور یا قهوه یي رنګ لري په پښتو ژبه کې ورته لونګ، عربي ژبه کې ورته القرنفل ،دري ژبه کې ورته میخک،په اردو یا هندي پنجابي ژبه کې هم ورته لونګ، په انګلیسي ژبه کې ورته clove،په ترکي ژبه کې ورته کارانفیل ویل کېږي. لونګ په اومه یا خام حالت کې تر ډېره شنه او سره ښکاري.دا بوټی تر ډېره په اندونیزیا او مالیزیا کې شهرت لري او ډېر پخوا تري کار اخیستل کېده.ویل کېږي،چې په دې هېوادونو کې خلک د لونګو سګرټ هم څکوي. لونګ داسې یو بوټی دی،چې اوړی ژمی تازه او شین وي او د خزان اثر پرې نه وي.لکه رحمن بابا چې وایي:

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم

که خزان راباندې راشي که بهار

لونګ هم همداسې یو بوټی یا ونه ده. د لونګو ونه تر ۱۲ مترو لوړ قد لري،پاڼې یې لویې او ګلونه یې د انګورو د خوشې په شکل وي. دا ګل غوټی په لومړي سره کې سپینه ،بیا ورو ورو شنه او وروسته تیز سور رنګ خپلوي.د دې په سر کې څلور وړې پاڼې وي،چې بندې او د یو غونډاري په شکل ښکاري.غوټی یې چې کله یو نیم یا دوه سانتي متره اوږده شي، نو بیا ځان خلاصوي.د نړۍ تر ټولو زاړه لونګ په سوریه کې په یو لوښي کې وموندل شول.چې له ۱۷۲۱ ق م نه راپاتې وو.ښايي هغه وخت دا لونګ د ترکې د لارې عرب تجارانو د هند او یا نورو جزیرو نه وړې وي، همدارنګه د اندونیزیا د مالوکو جزیرې کې د لونګو درې او څلور سوه کاله پخوانۍ ونې اوس هم شته.په اولسمې میلادي پېړۍ کې د هالینډ (ډیچ) بحري تجارانو وربادې خیته واچوله.بل چا دا د ماکلو نه بهر نشو وړلی او که ځایي اوسیدونکو په پټه دا کار وکړو نو وژل به یې.په ۱۷۷۰ م یو فرانسوي د هغې ونې نه د لونګ غلا کول پیل کړل او ډېر وخت یې دا کار وکړ لومړی یې فرانسې او بیا یې زنجبار ته یوړل،هلته یې وکرل چې بیا ټولې نړۍ ته ورسېدل.لونګ په خواړو کې د خوشبویي نه علاوه د چین او هند په دودیزه داروګانو کې هم کارول کېږي.د لونګو نه تیل،عطر،د غاښ د درد ، د خیټې د ګرمولو او د تبې د کمولو لپاره کار اخیستل کېږي.د لونګو پوډر د مېږیو د وژولو او د میاشو دشړلو لپاره هم کارول کېږي. ( ۳ )

د اسیایه سویلي هېوادونو کې تر ډېره د لونګ څخه د مسالحې لپاره کار اخلي.د لونګ بوټی،چې ډېر د ارزښت وړ دی.لونګ که له رنګ تور دی،خو بوی یې بیا د هر چا په ذهن او زړه کې ځای لري.لونګ ډېر ښه بوی لري،چې ترې په زیاتره په خوړو،چایو، عطرونو او د زینت او ښکلا لپاره کارول کېږي.د افغانستان په سویلي ولایاتو لکه خوست،پکتیا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکتیکا کې خلک د لونګ د ښـــکلا او خوشـــبويي لپاره ترې ګټه اخلي.په يادو ولايتونو کې يې پيغلې او ناوې د زينت لپاره کاروي.پيغلې او ناوې له لونګو څخه ځوندې جوړوي،چې بيا يې پر کميس ټومبي.په خوســـت ولايت کې،چې کله ناوې د خاوند کور ته ځي،نو د کلي يوه ښځه ترې د سر نه د ناويتوب شنه او سره څادرونه لرې کوي او بيا هغې ښځې ته د دود په توګه دوه وړې کڅورې لونګ د ډالۍ په توګه ورکوي. ( ۸ )

په ختيځو ولاياتو کې په ځانګړي ډول په ننګرهار ،کنړ او نورســـتان ولايتونو کې پخوا لونګ د ګاڼې په ډول کاريدل.کله چې به يوه پيغله واده کېدله مخکې له واده به نجونو ورته د لونګو ځوندې جوړل، چې د لونګين په نامه به ياديدل.ياد لونګين بيا د ګېډۍ په ډول د ناوې په ټټر د نورو نجونو لخوا ټومبل کېدل.

**د لونګو د کارولو ګټې:**

د لونګو د ګټو په اړه که بحث وشـــي کيداى شـــي پوره کتاب پرې وليکل شـــي،خو دلته يې په لنډه توګه په ځينو ګټو لنډ بحث کوو.د لونګو ګلان د ډېرو ښـيګڼو لرونکي دي.په خوندورو خوړو کې ترې کار اخيسـتل کېږي او همدارنګه د صـحت لپاره هم ګټور دي.د لونګو د استعمال ګټې په لاندې ډول دي:

۱: لونګ د خارښ او شري په درملنه کې کار اخيستل کېږي.

۲: ميرمنې يې د غذا د خوندور کولو لپاره کاروي.

۳: حکيمان يې د غاښ د درد لپاره په دوا کې کاروي.

۴:د مخ د ښکلا په کريمونو کې ترې ګټه اخيستل کېږي.

۵: که په خوراک او په ځانګړي ډول په وريجو کې وکارول شي د ويټمانو په ساتنه کې مهمه ونډه لري.

۶:د جلدي امراضو لپاره په دوا کې کارول کېږي.

۷: نجونې يې د سنيګار او ښکلا لپاره کاروي.

۸: په ځينو سيمو کې د دود په ډول کارول کېږي

۹: د شکرې ناروغۍ د مخنيوي لپاره ګټور دي.

او داسې نورې بېشماره ګټې لري،خو دا چې زمونږ موضوع د ادب تر دايرې ده،نو دلته د لونګ په همدومره ګټو بسنه کوو. ( ۹ )

**لونګين:**

لونګين له لونګو څخه جوړه شـوې هغه ګېډۍ ده،چې پيغلې نجونې،کوژده شـوې او نوې واده شـوې ښـځې يې د سـينګار په بڼه جوړوي او بيا يې د ښـکلا او زينت لپاره په سـينه ځوړندوي.لونګين تقريباً په ټولو پښـتنو سـيمو کې نجونې د ګاڼې او سينګار په توګه کاروي.نجونې چې کله غواړي لونګين جوړ کړي له ډېرو مشورو او خبرو ورسته د ښکلي تور نګ او ښــه بوی لونګ له پســاري څخه اخلي او د اخيســتو پر وخت دومره ټينګار کوي،چې دوکاندار خراب يا بې کاره لونګ ورنکړي.په ځينو سـيمو کې ،چې کله نجلۍ کوژده شـي،نو د کلي نورې نجونې ورته د رنګ رنګ لونګين جوړلو مشـورې ورکوي او سره له مخې يې دې ته هڅوي،چې تر واده پورې يو خاص او په زړه پورې لونګين اماده کړي.کله کله،خو نجونې مخکې له مخکې خپل کوژدن ته د لونګو راوړلو فرمايش ورکوي او ورته وايي،چې:

جانانه يو خورد لونګ راوړه

د کلي دود دی لونګين ترې جوړومه

لونګين په کليوالي سيمو کې د ډېر ارزښت وړوي او د ګاڼو په شکل هم ترې ګټه اخلي.که د کومې نجلۍ لونګين نه وي او هر څومره ډېر سره ولري،خو بيا هم خلکو ته نيمګړې ښکاري.نجونې بيا لونګ په ډېر قدر ساتي او نه غواړي چې ترې خراب شي،څومره چې لونګ د ښه بوی لرونکي وي په هماغه اندازه يې لونګين هم په زړه پورې وي.لونګين د پښتنو پيغلو د سينګاراو ګاڼې لپاره ډېر د قدر وړ وي.

**د لونګين د جوړلو طريقه:**

مخکې مو هم يـادونـه وکړه،چې پښـــتنې پيغلې،چې کلـه کوژده يـا واده کوي،نو مخکې لـه مخکې دې تـه امـادګي نيسـي،چې کوم ډول لونګين به جوړوي او له ډېرو سلا مشـورو ورسـته د لونګو د اخيسـتلو لپاره ځان اماده کوي.لومړی،خو نجونې کوښښ کوي،چې ښـکلي رنګ او د ښـکلي بوی والا لونګ واخلي،کله چې يې لونګ واخيسـتل د هغې لپاره خاص او ځـانګړی تـار وي،چې ځينـې خلـک ورتـه (ايســـترچ) تـار هم وايي.يـاد تـار چې مختلف رنګونـه لـکـه ( ســـره،شـنـه،زيړ،ګلابي،ســرچيي،نرګســي...) او نور رنګونه لري،چې زياتره د همدې لونګين لپاره کارول کېږي،تر لاســـه کوي.کله چې نجونې لونګين جوړوي،يوه يا دوه شـــپې مخکې يې لونګ د غوا يا اوزې په شـــيدو کې چې اوبه په کې نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډې شوي،لمدوي او په هماغه شیدو کې یې پرېږدي او که د چا وس شیدو ته نه کېږي،نو بیا لونګ د دوه شپو لپاره په پاکو اوبو کې لمدوي.

دا کار د دې لپاره کېږي،چې لونګ نرم او خوشبويه شي او بوی یې تر ډېره وخته پاتې شي.کله چې لونګ نرم او لامده شول،نو بیا هماغه د (ایستریچ) او سوندړ تار را اخلي لومړی لونګ د سوندړ په تار کې یو یو دانه اچوي،ځینې نجونې چې غواړي لونګین یې ښکلی ښکاره شي بیا په تار کې یو دانه لونګ او یوه مرۍ ورزیاتوي،چې له دې سره یې ښکلا زیاتیږي،ځینې نجونې لس لړه او ځینې اته او کله کله زیات لړونه جوړوي،د لا ډېرې ښکلا لپاره په کې ځینې وخت له شیشو هم کار اخلي.کله چې لړونه اماده شول،نو بیا ورته له رنګ رنګ تارونو چې پورته ورته اشاره شوې ،ځوندې جوړوي او د هر لړ اخر یې یو یو ځوندۍ ورزیاتوي،چې دې سره د لونګین ښکلا یو په دوه کېږي.د لونګین جوړولو په وخت کې ډېرې نجونې سره راټولې شي شین چای ،پلي او ګوړه ورسره پرته وي،ځینې نجونې د خپل بخت او تخت کیسې کوي او ځینې له ځانه سره لنډۍ او سروکي زمزمه کوي.ځینې خو یې لا اند په خیالونو کې یو لوړ محل جوړي او په فکرونو او سوچونو کې تللې وي.

کله چې لونګین تیار شي،نو بیا یې په یو ښکلي رنګین دسمال کې تاو او د نجلۍ هغه بکس چې دمور یا خسرګنۍ لخوا ورته راوړل شوی وي،د نورو سینګار توکو سره یوځای کړي او بیا د دې انتظار کوي،چې د واده ورځ یې رانږدې شي او له همدې ښکلې او په زړه پورې ګاڼې څخه د سینګار لپاره ګټه پورته کړي.د لونګین جوړولو طریقه په هر ځای کې خپل دود او دستور لري،خو تقریباً په ټولو پښتنو سیمو کې دا یو رواج دی.

لونګین چې پېغلې یې د ګاڼې په بڼه هم کاروي هم د ارزښــــت وړ بلل کېږي او اند چې ځینې وخت یې مینان د لونګین ارزښت تر ځان هم لوړ بولي او لونګین سره یو ډول پټه دښمني کوي لکه چې وایي:

ځومره خوشبخته لونګین دی

د مستو پیغلو په ټټر وهي ټالونه

کله کله لونګین ته دومره ارزښت ورکول کېږي،چې د اوړی (د ګاڼې یو ډول دی) سره په جنګ شي او د ګیلې په ژبه داسې وایي:

تور لونګین په ژړا راغی

ما ته اوړی پر سینه ځای نه راکوینه

کله چې نجونې د خپل معشوق د دیدن موقع پیدا کړي،نو بیا ورته په ناز او غوسه داسې اختارونه ورکوي،چې ته به وایې معشوق یې مظلوم او معشوقه یې ظالمه ده لکه په لاندې لنډۍ کې چې وایي:

لاس به دې وتړم په زلفو

په لونګین به دې وهم چې مړ دې کړمه ( ۲ : ۲۱ )

کله،چې دوه میینان سره یوځای شي،نو بیا خپل معشوق ته وایي،چې ډېر مه رانږدې کېږه هڅې نه چې سبا درنه د لونګین بوی ځي او په خلکو کې رسوا شې لکه په لاندې لنډۍ کې چې ورته اشاره شوې ده.

ټینګه مې مه نیسه په غېږ کې

سبا به بوی د لونګین در څخه ځینه

کله، خو نجونې په لنډیو کې دومره باریکبینه او نازک خیاله شــي،چې خپل معشـــوق ته وایي،چې د لونګین په لړ پورتې او هلته بیا د چارګل سیلونه وکړې لکه په لاندې لنډۍ کې چې ورته اشاره شوې ده.

د لونګین په لړ راخیژه

په اوږۍ شپه کړه د چارګل وکړه سیلونه

کله داسې هم کېږي،چې تور لونیګین خپل خاوند ته ژاړي او په سلګو سلګو کې ورته وایي،چې ستا د سینې روپۍ ما ته په سینه ځای نه راکوي او خپله خبره داسې کوي:

تور لونګین په ژړا راغی

ما له روپۍ په سینه ځای نه راکوینه ( ۱۱ )

کله خو داسې هم کېږي،چې د وطن حالات انسان مجبور کړي،چې له وطنه لاړ شي،نو بیا ویناوال د خپل زړه درد په لاندې کې داسې بیانوي:

له مانه پاتې شوې وطنه

که چینارونه دې لونګ شي څه به یې کړمه ( ۱ : ۲۷)

هلکان کله ځان د لونګ د رنګ سره دومره نږدې او مغروره وښایي،چې د کلي د نجونو د مرګ خبره کوي او د خپل غرور انداز په لنډۍ کې داسې وایي:

یو غنم رنګ یم بل لونګ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه د کلي جينکۍ راپسي مرينه ( ۱ : ۸۳ )

لونګين په اړه نورې ډېر لنډۍ شــــته،خو دلته په همدې بســــنه کوو.لونګين د ګاڼي په بڼه هم کارول کېږي،کله چې نجوني د خپلې کوژدنې يا واده لپاره ګاڼه او ســـينګار توکي اخلي،نو لونګين به ورســـره خامخا اخلي.هغه نجونې چې په ګاڼه کې لونګين نه وي،يو ډول بې سينګاره ښکاري او په ځان کې د کوم شـي د کمي احساس کوي.او چې ځان سينګاروي،نو د سينګار پر وخت په سروکو کې د لونګين يادونه اړينه بولي او داسې يې يادوي:

يو پلو مې يار لونګين مې په دا بل پلو

اى وړوکيه دې پلو راواړه

**پښتو لنډيو کې د لونګ او لونګين ياد:**

**لنډۍ ( ټپه ، مسره )**

لنډۍ د پښـــتو ګړني يا شـــفاهي ادب نامتو او مهم ډول دى،لنډۍ ته ځينې وخت،ټپه او مســـره هم ويل کېږي.لنډۍ يوازې يو بيت وي،چې لومړۍ مسـره يې (۹) څپې او دويمه مسـره يې (۱۳) څپې وي.لنډۍ په همدې وړکي شـکل کې ډېرې لويې کېسې او موضوعات ځاى کولى شي. په نورو ژبو کې نه ليدل کېږي او يوازې د پښتوژبې يا پښتنو حق دى پرې. ( ۷ : ۳۶ ).

د لنډۍ په اړه هم ډېر زيات معلومات شـــته،دلته مو لنډه يادونه ځکه وکړه،چې زمونږ د موضــــوع برخه ده،څو لوستونکي وکولى شي،چې د لنډۍ په اړه هم لنډ معلومات تر لاسه کړي.

لونګ،چې يو طبعي بوټى دى او د نوم په اخيســتلو ســره يې په ذهن کې يوه وړمه او خوشــبويي انځورېږي. له ډېرې لرغونې زمانې څخه په نړۍ او په ځانګړي ډول په افغانستان کې د استعمال وړ دى. د لونګ د نوم په اوريدو سره په ذهن کې بلها خبرې ګرځي،څوک يې د صحت لپاره د کاروني په اړه خبرې کوي او څوک يې د غذاګانو د خوندور کولو لپاره،خو پښـــتنې پېغلې يې بيا نه د صـــحت له ګټې خبرې او نه يې د غذا په کارولو کې فکر کوي،خو چې کله يې په کور کې کومه خوشحالي راشي يا يې د خپل ژوند ملګري د ټاکلو وخت راشي،نو بيا په دې فکر کې شي،څرنګه لونګ به اخلي او ځانله به ترې د څومره ځنډو لونګين جوړوي. همدا لامل دى،چې زياتره نجونې د لونګ ښـکلا،بوى او ارزښـت په فولکلوريکو لنډيو کې هم انځوروي،نو اوس به د موضـــوع په دې برخه کې په لنډيو کې د لونګو د ياد په اړه خبرې وکړو او وبه ګورو،چې نجونې څنګه او ولې لونګ زيات خوښوي او ډېره مينه ورسره لري.

کله،چې د يوې پېغلې خاوند يا د مينې يار بازار ته ځي او يا نوى په کاروبار پيل کوي،نو بيا يې پېغلې په لنډيو کې داسې يادونه کوي:

اشنا مې نوى سوداګر دى

په سربارى کې به لونګ راته راوړينه

او يا کله چې په غرونو د وريځو لمن خوره شي او په اسمان کې د باران د راتګ انګازه وغږېږي،نو نجونې بيا په دې فکر کې وي،څنګه د لونګو درمندونه له بارانه وساتي څو ترې خراب نه شي لکه په لاندې لنډۍ کې چې وايي:

په لويو غرو د باران شور شو

کښته لامده شول د لونګو درمندونه

لونګ يوازې د نجونو نه بلکې د هلکانو د ذوق څېز هم دى،کله چې کوم هلک کوم باغ ته لاړ شي او له بڼوال سره مخ شي،نو له روغبړ وروسته ورته د باغ تعريف شروع کړي او بيا په لنډۍ کې ورته داسې وايي:

د باغ دې هر بوټى لونګ دى

پرې لړېدلي دي د پيغلو پلونه

خو کله چې کومه نجلۍ د خپل معشوق سره ديدن کوي او هغې ته له نازه ډکو خبرو کې وايي،چې زه به داسې درماته شم لکه د لونګو بوټى نو بيا ورته د خپل زړه راز داسې څرګندوي:

دا بند په بند به شم درماته

په بند ماتېږي د لاچي لونګو ونه

کومه ناوې،چې د خپل معشـوق او خاوند د ډېر انتظار وروسـته د راتلو خبر تر لاسـه کړي،نو بيا ورته په ډېر ناز وايي،چې کله راتلې له مخکې احوال راکړه چې په پالنګ درته لونګ وشيندم لکه په لاندې لنډۍ کې چې وايي:

چې ته راځې ما به خبر کړې

چې پر پالنګ لاچي لونګ وغوړومه

په پښتو ولسـي ادبياتو کې دغه بوټى تر هر بل بوټي ډېر او په خوند ياد شوى او لرغونى ارزښت او تاريخ لري.په لنډيو او سندرو کې يې پيغلې په ودونو کې په سمبوليکه بڼه هم کاروي.معنى دا چې که کوم هلک يې سره ټاکلى وي په سندرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې یې لونګ بولي.لونګ د خپل ښه بوی او اصل له مخې په لنډیو کې داسې ستایل شوی،چې اند د هنریت له مخې د تشبهاتو څادر هم خلاصـوي.لونګ په فولکلوریک ډول د ځینو لپاره د زړه سـکون او حوسـاینې درد دی.دغه بوټي ته د سـپیځلتیا له مخې ځانګړی ارزښت ورکوي لکه لاندې لنډیو کې چې ویل کېږي.

له کوره اوځې لونګ واخله
لونګ دوا ده د زړه درد اراموینه

لونګ د نجونو لپاره د یو دود په توګه هم پاتې شـــوی او کله چې نجلۍ کوژده یا واده کېږي،نو له خپل خاوند څخه د لونګو غوښتنه داسې کوي:

ځینې پیغلې بیا لونګ ته دومره ارزښت ورکوي،چې د لالي سره یې یوزای په سینه ځای کوي او د اوسیدو اجازه ورکوي لکه په لاندې لنډۍ کې چې وایي:

په سینه یو لالی ځایږي
زه لونګین او جانان دواړه ځایومه ( ۱۱ )

همدارنګه د لونګو د کر اوکښت په اړه هم په لنډیو کې یادونه شوې او لکه چې معشوقه لونګ کري،نو بیا یې د لو لپاره خپل معشوق راغواړي او خپله خبره ورته په لنډۍ کې داسې کوي:

لونګ کرمه لو به ګډ کړم
چې لو مې ګډ کړ یاره تا به راولمه

خو چې کله یې لالی مسافرشي او د لونګو کښت هم رسیدلی وي،نو بیا په اندیښنه کې وي او خپل مسافر لالي ته داسې وایي:

دا ته چې لاړې مسافر شوې
د شنو لونګو کښت به څوک ریبي مینه

کله کله بیا داسې هم کېږي،چې ځینې خلکو لونګ نه وي بوی کړی او یا یې نه وي لیدلي،نو بیا ورته په لنډۍ کې داسې وایي:

که چا لونګ لیدلي نه وي
پیغله دې بوی کړي د لونګو بوی ترې ځینه ( ۱۰ )

**په سروکو کې د لونګ او لونګین ذکر:**

سـروکي د پښـتني فولکلور یو ځانګړی منظوم ډول دی،چې له لنډۍ سـره د یو ځای ویلو په ترڅ کې پوره کېږي او څرنګه چې د لنډیو په سـر کې راځي،نو ځکه ورته سـروکي هم ویل کېږي. په ځینو سـیمو کې سـروکي ته نیمکۍ هم ویل کېږي.سروکي معمولا پښتني میرمني او پښتانه هنرمندان په هنري مجلسونو کې د هنري الاتو دکاروني پر وخت وایي.هغه لنډۍ چې سروکی بشپړوي ،ټیکۍ ورته وایي.ځینې سروکي لنډ او ځینې بیا اوږده وي. ( ۷ – ۸۰).

لونګ او لونګین د ډېر ارزښت له مخې په سروکو کې هم یادیږي او له یاده یې نه اوباسي لکه په لاندې سروکي کې چې وایي:

که دلته نه وي په کنډو ورپسي واوړه
ما ته د لونګو بوټي راوړه

یا په لاندې سروکي کې چې د لونګین یادونه کوي:

یو پلو مې یار لونګین مې په دا بل پلو
ای وړوکیه دې پلو راواړه

**په بګتیو کې د لونګو ذکر:** بګتۍ د خاصـو ولسـي سـندرو په لړکې یو مهم ډول دی،چې ډېر وخت د پښـتني سـندر غاړو له خولې اوریدل کېږي.بګتۍ پښـتني هنرمندان مجلسـونو کې د چاربیتو،بدلو او داسـتانونو په منځ- منځ کې وایي،بګتۍ د مجلس ښه او تودښت لاپسې زیاتوي او د خلکو پاملرنه ډېروي. ( ۷ – ۳۶ ).

مخکې مو هم یادونه وکړه،چې لونګ او لونګین په شـفاهي ادبیاتو کې د ډېر ارزښـت او قدر وړ بوټی یاد شـوی دی.که څه هم په نورو ملکونو کې د درملو او مصــــالحو لپاره زیات کارول کېږي،خو پښــــتنه ټولنه کې لونګ او لونګین د سینګار او ګاڼې په ډول زیات یاد شوی لکه لاندې د بګتۍ یوه برخه راوړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مازيګر اوبو له مستۀ په نخرو راځي
شور يې د ګونګرو راځي
شا په ټوپونو ځي په دانګه
دا د لاچي لونګو څانګه
ورته د فکر په ټال زانګه
دا تورې زلفې د سيني په انارو راځي
شور يې د ګونګور راځي ( ۴ : ۲۵۷ )

**چاربيتو کې د لونګ او لونګين ذکر:**

داهم دپښتو منظوم ادب يو داسې فلکلوريک ژانر دی چې اوږد او سندريزه جنبه لري د مضمون له پلوه هر اړخيزه مضامين ليږدوي چار بيتي په اولسي ادب کې خورا مشهوري منظومې دي . دچاربيتې هر بند له څلورو مسرو څخه کم نه وي ، خو اوږده موضوع بيانول ددې فورم ځانګړنه ده چاربيته کيدای شي چې هر څو بنده ولري .د پښتو چاربيتو معلوم وخت ندی معلوم،خو لومړنی يې د شيخ تايمني په پټه خزانه کې يادونه شوې ده.( ۷ :۱۳۴ ).

د موضــوع په دې برخه کې به د چاربيتو هغه نمونې يا برخې راوړو ،چې د لونګو يا لونګين يادونه په کې شــوې وي لکه لاندې چې د چاربيتې يوه برخه راوړل شوې ده.

دپښتني پېغلې له خوا

نـــــاستـه يـم دفـکر پـه ټـال زانـګم چېـرته يـــار ګورم
زه مستــه ليـلايـم ستــرګې اچـــوم خـريـــدارګـــورم
× × ×
نـــــاستـــه يــم دفکــر پـــه ټـال زه نېشـــه د بنګو يم
تـېـــرشـو پېغلتوب رابـانــدې ونـــه دلـونــګـــو يـــم
يـــم پـــه عطـرو وتــره ګــوښـه نـاستـه لـه بـې ننــګـــويم
ځان له دمجنون پـــه شان په صـدق کې دلـدار ګـــــورم

همدارنګه په چاربيتو کې هم د لونګ ذکر او يادونه شـوې ده.په شـفاهی ادب کې ځکه دا بوټی زيات ياد شـوی،چې پخوا د سينګار توکي ډېر زيات نه و او همدا لونګ وو،چې د خلکو پام يې ځانله اړولو،خو اوس يې هم قدر کم شـوی ندی او په زياتره کليوالي سيمو کې يې لا د پخوا په شان قدر او ارزښت شته،چې سميزو شاعرانو په چاربيتو کې هم ياد کړی لکه په لاندې چاربيته کې يې چې ګورو:

دوه بنديزه چاربيته
په سپينه خوله کې دې نيشه ايښې د بنګو ده
دا لباسي خندا دې ټوله د بې ننګو ده
بل خوشبويي دې په سينه کې د لونګو ده
عاشقان وژنې نن دې توره د قصابو ايښې
اوبو له ځې په سر جوغه دې د نوابو ايښې

يا په دې لاندې ځنځيرې چاربيته کې يې چې يادونه شوې ده:

ځنځيرې چاربيته
کله به راوړې دواړه لبې دې رنګين شيرين
سپين دې جبين،زرين،مخ دې ځليږي
کله به راوړې دواړه لب،شات وملهم صنم
مه کړه ستم،هردم،په غضب ښوري
سرې دې منګولې،همېش وړې زړونه قلم،قلم
اخلې قدم،په چم،سترګې دې توري
په در دې پروت يم،هميش غواړم،ستا کرم،محکم
لرې کړه غم،الم که رب ته ګورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن دې په غاړه باندې زانګي لونګين ،رنګين
سپين دې جبين،زرين مخ دې ځلېږي
ترپايه

( ۷ : ۱۶۲ )

همدارنګه ملا عبدالقادر،چې يو کليوالي شاعر دی هغې هم په خپله يوه مشهوره چاربيته کې د لونګين او لونګ يادونه داسې کړې ده.

د ملا عبدالقادر مشهوره چاربيته

تور لونګين دې د سينې سره په جنګ و
دانه لاچي لونګ و ګونګورو دې کاوه شور
تور لونګين دې د سينې سره مدام
زنه دې سپب،لب دې حرير واوره ګلفام
ودې ويشتم،چې راښکاره شولې په بام
د خدای دپاره رحم وکه په ملنګو
دانه لاچي لونګ وو- ګونګور دې کاوه شور
تر پايه
( ۷ : ۱۷۲ )

**په پړاکو کې د لونګ ذکر:**

پړاکی د افغانستان په سويلي او سويل ختيزو سيمو کې ويل کېږي.سر محقق زلمی هېواد مل په خپل کتاب (د پښتو ادبياتو تاريخ-لرغوني او منځنۍ دوره ) کې دپړاکو په اړه وايي : (( دا ســندرې د پښــتو د شــفاهي ادبياتو يو ځانګړی ډول دی،هره سندره يې يوه څوارلس سيلابيزه مسرۍ لري،چې معمولا د يوې بلې سندرې په پای کې په خاصه غاړه ويل کېږي او په ځانګړي ډول د استعمال مورد نه لري)). ( ۷ : ۶۰ )
څېړنوال محمد عارف غروال په خپل اثر ( غرنۍ سندرې) کې پاړکي د (( لنډکۍ)) په نوم ياد کړي دي. ( ۶ : ۱۲۳ ) .
د پښــتو شــفاهي ادب هغه غني پانګه ده،چې په خپله لمن کې د هر باغ او چمن ګلان ځای کوي،په پړاکو کې هم د لونګ ياد شته،ځينې ولسي شاعران يې په پړاکو کې هم يادونه کوي لکه په لاندې پړاکي کې چې ګورو:

پړاکی
جار خوله رانژدې که
ما لونګ ژولې دينه

**پايله:**

لونګ او لونګين د پښتنو سيمو او په ځانګړي ډول د پښتنو نجونو د سنيګار هغه توک دی،چې د ګاڼي په ډول يې د سينګار او ښکلا لپاره کاروي.د لونګ هغه ارزښتناک او ښکلې بوټی دی،چې پښتنې نجونې يې په لنډيو کې او ولسي شاعران يې د ولسي ادب په ټولو ژانرونو کې يادوي او ان د ليکلو ادبياتو خاوندان هم ترې په کراره ندي نسات او په خپلو اشعارو کې يې د لونګ او لونګين يادونه کړې ده.په پښــتنه ټولنه کې د لونګ او لونګين کارونه د يو دود په څېر ده.هغه نجونې چې ودېږي بايد په خپل سينګار کې د ښــکلو لونګو څخه ښــکلی لونګين جوړ کړي.د لونګ او لونګين ذکر د پښتو ولسـي ادب په هر ژانر کې ليدل کېږي،چې دلتــه پــه دې څېړنــه کې د ځينو ژانرونو پــه راوړلو ســره ښــودل شـــوې ده.لونـګ پــه لنډيو ،پاړکو ،بګتيو ،چاربيتو ،سروکو او نورو ولسي ژانرونو کې ياد شوي دي.د لونګ په ارزښت تر هرې بلې ټولنې پو ښتنه ټولنه ډېره پوهيږي او دا ځکه چې دا يې د خپل دود او دســتور يوه برخه ګرځولې ده.د لونګين د جوړولو پر وخت د نجونو لخوا يوه وړه ميله هم جوړيږي،څو په خوشحالۍ سره دا دود ترسره کړي او د ناوې لپاره ښکلی لونګين اماده کړي،نو د دې څېړنې دپايلې په توګه ويلی شو،چې لونګ او لونګين په هره ټولنه کې خپل ځای لري،خو پښتنه ټولنه کې يې ارزښت دومره زيات دی،چې د خپل کلتور او دود جز يې ګرځولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخځلیکونه**


۱- بهاند،اصف، د لنډیو د ښتولو ستونزي،افغتن جرمن آنلاین پورتال. ۲۰۱۸م.
۲- بېنوا،عبدالروف،پښتو لنډۍ،د افغانستان د علومو اکاډیمي،پښتو ټولنه. ۱۳۶۷ ل.
۳- حلیم،صفیه،چاپیریال او روغتیا خپرونه.safiahaleem.com/p=3925، ۲۰۱۶م.
۴- رفیع،حبیب الله،د خلکو سندرې،د افغانستان د علومو اکاډمی د تاریخ او ادب ټولنه.۱۳۴۹ل.
۵- زغم،احمد شاه،فولکلور او فولکلوري ادبیات،د افغانستان ملي تحریک،فرهنګي څانګه. ۱۳۹۴ ل.
۶- غروال،محمد عارف،غرنۍ سندرې،د افغانستان د علومو اکاډیمي: کابل. ۱۳۶۰ ل
۷- وفا،محمد داود،د فولکلور پېژندني لارښود،مومند خپرندیویه ټولنه- جلال اباد. ۱۳۹۳ ل.
۸- https://ps.wikipedia.org/wiki/
۹- https://www.rekhta.org/articles/dihati-boliyan-saadat-hasan-manto-articles-3?lang=ur
۱۰- https://www.youtube.com
۱۱- Zawia.media2020\5\3
۱۱- **https://www.youtube.com**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**